ای الله! زه پر تا له کمزورۍ، سستۍ، بزدلۍ، بخل، زړښت او د قبر له عذابه پناه غواړم، ای الله! زما نفس ته تقوا ورکړه او پاک يې کړه، ته تر ټولو ښه پاکوونکی يې، ته د هغه ساتونکی او مالک يې، ای الله! زه پر تا له داسې علمه پناه غواړم چې ګټه ونه لري، له داسې زړه نه چې وېره پکې نه وي، له داسې نفس نه چې نه مړېږي، او له داسې دعا څخه چې نه قبلېږي

له زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه تاسو ته نه وايم مګر هماغه څه چې رسول الله ﷺ به فرمايل، هغه به فرمايل: «ای الله! زه پر تا له کمزورۍ، سستۍ، بزدلۍ، بخل، زړښت او د قبر له عذابه پناه غواړم، ای الله! زما نفس ته تقوا ورکړه او پاک يې کړه، ته تر ټولو ښه پاکوونکی يې، ته د هغه ساتونکی او مالک يې، ای الله! زه پر تا له داسې علمه پناه غواړم چې ګټه ونه لري، له داسې زړه نه چې وېره پکې نه وي، له داسې نفس نه چې نه مړېږي، او له داسې دعا څخه چې نه قبلېږي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د نبي ﷺ له دعاوو څخه يوه دا وه: «اللهم إني أعوذ بك» اې الله زه پر تا پناه نيسم، يعنې تاته پناه دروړم «من العجز» له کمزورۍ څخه، داسې چې انسان د ګټور کار توان ونه لري، «والكسل» او له تمبلۍ څخه: چې د کار اراده شتون ونه لري، ځکه کمزورۍ انسان د کار لپاره کوم مهارت نه شي کارولی او تمبل يې اصلا غواړي نه، «والجبن» او له بزدلۍ څخه، چې له اړينو کارونو انکار کوي، «والبخل» او له بخل څخه: د هغه څه د ورکړې په منع کولو سره چې ورکول يې واجب وي، «والهرم» او له زړښت څخه، يعنې هغه زوړوالی چې له امله يې بدن کمزوری کېږي، «وعذاب القبر» او د قبر له عذاب څخه، يعنې هغو کړنو څخه د قبر د عذاب لامل ګرځي. «اللهم آت نفسي» ای الله! زما نفس ته د اطاعت په کولو او د ګناهونو په پرېښودلو د تقوا توفيق ورکړه، «وزكها» او له ناوړه او بدو اخلاقو څخه يې پاک کړه، «أنت خير من زكاها» بېشکه ته غوره ذات يې چې پاکوې يې، او ستا پرته بل څوک نفس لره پاکوونکی نشته، «أنت وليها» ته يې سرپرست، مرستندوی او چارسمبالی يې، «ومولاها» او ته يې بادار، چار سمبالی، رب مالک او پرې د نعمتونو لوروونکی يې. «اللهم إني أعوذ بك من علم لا ينفع» ای الله! زه پر تا له هغه علم څخه پنا غواړم چې ګټور نه وي لکه د ستوري پوهنه (هغه چې ستورو کې د لېدو له مخې غيب وايي)، کوډې جادو او هغه علم چې په اخرت کې ګټه نه لري او يا هغه چې عمل پرې نه کېږي، «ومن قلب لا يخشع» او له هغه زړه څخه چې ستا لپاره پکې عاجزي نه وي او نه درته غاړه ږدي، نه ارامېږي او نه ورته ستا په يادولو ډاډ حاصلېږي، «ومن نفس لا تشبع» او له هغه نفس څخه چې نه مړېږي، او د الله په حلاله او پاکيزه ورکړه قناعت نه کوي، «ومن دعوة» او له هغې دعا څخه چې «لا يستجاب لها» رد کېږي او نه قبلېږي».


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee